بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**سر یال نمبر: 304**

دملت غږ

یووالی، ایمان، انضباط

# اوس د ټي ټي پي خوارجو لپاره د پټیدو ځای نشته

که له یوې خوا د افغانستان د اسلامي امارت اړوند اداره دار الافتا د افغانستان له خاورې پر پاکستان د ترهګرو بریدونه ناروا او حرام بللي، له بلې خوا د کونړ او نورستان چارواکو د تحریک طالبان پاکستان د هڅو ملاتړ کړی دی۔

په دې حالاتو کې د دانګام کنډک د مفتي عبدالبصیر په ګډون د کنړ او نورستان ځایي خلکو له امیرالمؤمنین او د اسلامي امارت له علماء کرامو څخه ډیرې پوښتنې راپورته کړي دي لکه:

- **ایا هغه څوک چې د امیرالمؤمنین د حکم مخالفت کوي مرتد کیږي؟**
- **د دار لافتاء مستند فتوا چې جهاد له افغانستانه بهر حرام دی، نو ایا هغه څوک چې په دې کې ګډون او اسانتیا برابروي مرتد بلل کیږي؟**
- **د کونړ او نورستان چارواکو په ښکاره له ټي ټي پي سره مرسته کړې، نو ایا د دوی د حکم اطاعت روا دی؟ ایا دا د امیرالمؤمنین له حکم څخه سرغړونه نه ده؟**
- **ایا د امارت مجاهدین خپله مرضي کوي او د امیرالمؤمنین امر نه مني؟**

اسلامي امارت د ولس په مرسته امریکا ته ماتې ورکړه، خو که همدغه خلک مخالفت پیل کړي، نو ډېر ژر به خپله واکمني له لاسه ورکړي. د انکار پرځای، د افغانستان موقت حکومت باید د ټي ټي پي لپاره د حل لاره ومومي او نه چې په پاکستان کې د خپل شتون د ښودلو لپاره منافقت ته لاره هواره کړي۔

له بلې خوا په چترال کې د پاکستان د پوځ په ملاتړ کې په سلګونو وائرل شوې ویډیوګانې چې په کې ځایي خلک په خپلو موټرو کې ټپیان او مهمات وړي، د ټي ټي پي د دروغو پروپاګند په ډاګه کوي. د هرې ورځې په تېرېدو سره، ټي ټي پي نه یوازې خپل ځمکني ظرفیت له لاسه ورکوي بلکې له ایډیالوژیک پلوه هم کمزورې کیږي. که خدای کول! اوس به دوی د تېښتې لار ونه مومي۔